نړیوال بانک
له بې وسی فقر او غربت څخه ژغورلي
نړۍ ته د رسیدلو لپاره هلې ځلې

دافغانستان اسلامي جمهوریت

# دافغانستان دولت له نړیوال بانک سره دافغانانو د روغتیایي او تغذیوي حالت دښه والي په برخه کې نوی تړون لیل لاسلیک کړ

**کابل،دوري ۲۰- ۱۳۸۸ (داپریل ۹- ۲۰۰۹میلادي)**: دافغانستان داسلامي جمهوریت دمالي وزارت نن له نړیوال بانک سره د۳۰میلیونه امریکایي ډالرو وړیا مرستې تړون لیل لاسلیک کړ.ددې مرستې موخه او هدف **په کلیوالو سیمو کې دارمنو خلکو له پاره دروغتیایي خدمتونو دوراندې کولو دفعالیتونو دپیاوړتیا** له پروژې څخه ملاتړ دی.،چې دا به دهغو افغانانو، په ځانګړې توګه دښځو او ماشومانو، چې له روغتیایي خدمتونو څخه په بې برخې سیمو کې ژوند کوي، روغتیایي او تغذیوي حالت ته ښه والی ورکړي.

افغانستان په تیرو ٦ کلونو کې د روغتیا په سکتور کې د پام وړ پرمختلګ کړی دی. د هغه ملي سروې په نتیجو کې چې د ۲۰۰٦ کال په پای کې ترسره شوه، موندل شوې ده چې د یوه کال او د پنځو کلونو څخه د ټیټو ماشومانو د مړیني کچه د ۲۰۰۱ کال راهیسې په ترتیب سره ۲۲ په سلو او ۲٦ په سلو کې رالویدلې ده. همدا راز، د فعالو لمړنیو روغتیایي مرکزونو شمیره په ۲۰۰۲ کال کې د ٤۹۸ مرکزونو څخه لوړه شوې او په ۲۰۰۸ کال کې ۱٤٤۳ مرکزونو ته رسیدلې ده او همدارنګه د هغه روغتیایي مرکزونو شمیره چې تکړه ښځینه کارکوونکې لري له ۲۵ سلنې څخه ۸۲ سلنې ته اوچته شوې ده. خو ددې لاسته راوړنو سره د افغانستان روغتیایي شاخصونه په نړیواله کچه تر ټولو کښته شاخصونو له ډلې څخه دي. د بیلګې په توګه له ۵ کلونو څخه د کوچنیو ماشومانو د مړینې کچه اوس هم د ټیټ عاید درلودونکو نورو هیوادونو په پرتله ٦۷ په سلو کې اوچته ده.

*"له زیات شمیر ستونزو او چلینجونو سره سره موږ وکولی شول دافغانانو دروغتیایي حالت دښه والي په برخه کې ډیرې برياوې ترلاسه کړو"* دامطلب **دافغانستان داسلامي جمهوریت دمالیی وزیر جلالتمآب ډاکتر عمر زاخیل وال** څرګند کړ، زیاته یې کړه:*"دروغتیایي خدمتونو دوراندې کولو په برخه کې دښه والي او بریالیتوبونو پیاوړتیا دافغانستان ددولت او نړیوالې ټولنې اوږدمهاله ژمنو ته اړتیا لري.دافغانستان دمالیې وزارت له ټولو هغو مرستو او هلو ځلو څخه، چې په ټول هیواد کې د افغانانو دروغتیایي حالت دښه والي له پاره ترلاس لاندې ونیول شي،هراړخیز ملاتړ کوي".*

دغه پروژه د افغانستان د روغتیا او تغذیې د ستراتیژۍ څخه چې د ۲۰۰۸ څخه تر ۲۰۱۳ کلونو لپاره ده، ملاتړ کوي. ددې ستراتیژۍ پر بنسټ، دولت په پام کې لري ترڅو د بنسټیزه روغتیایي خدمتونو د مجموعې د پوښښ کچه پراخه کړي او تر ۲۰۱۰ زیږدیز کاله پورې لږ تر لږه د هیواد ۹۰ په سلو کې وګړي تر پوښښ لاندې راولي.

*"له ۲۰۰۳ میلادي کال څخه راپه دیخوا زموږ تجربی داڅرګندوي چې ددې وزارت له مرکزونو او غیردولتي ادارو سره دروغتیایي خدمتونو دوراندې کولو په خاطر دقرارداد کول اغیزناک دي".*دامطلب **دافغانستان داسلامي جمهوریت دعامې روغتیا وزیر جلالتمآب دوکتور محمد امین فاطمي** څرګند کړ،زیاته یې کړه:*"ترلاسه شوې پایلې او نتیجې څرګندوي چې دروغتیایي خدمتونو وړاندې کول دمیندو او ماشومانو له پاره درضایت وړ دي او موږ تصمیم لرو چې همدې لارې چارې ته دوام ورکړو.په هغه صورت کې چې دقراردادونو تطبیق کوونکي په ښه ډول روغتیایي خدمتونه وړاندې نه کړای شي،قراردادونه یې فسخه کیږي".*

دا پروژه به د اساسي روغتیایي خدمتونو د مجموعې په چمتو کولو کې داسې مرسته وکړي چې د اجرااتو اړوند تړونونه به د کورنیو او بهرنیو غیر دولتي مؤسسو سره لاسلیک شي او همدا راز د عامې روغتیا وزارت له لارې په مستقیمه

توګه هم خدمتونه وړاندې شي. د نوموړو خدمتونو په مجموعه کې د اساسي روغتیایي څارنې ګامونه ګډون لري لکه د ماشومانو معافیت، تغذیه، د توبرکلوز او ملاریا کنټرول، د زیږون نه مخکې، د زیږون پر مهال او له زیږون څخه وروسته څارنه، کورنۍ لارښوونه، او اساسي معالجوي خدمتونه. اوس مهال د افغانستان په سلو کې ۸۵ وګړي په داسې ولسوالیو کې هستوګنه لري چې د اساسي روغتیایی خدمتونو د مجموعې تر پوښښ لاندې دي. هغه لګښتونه چې هر کال د نوموړو اساسي خدمتونو د چمتو کولو له امله د هر نفر لپاره ترسره کیږي، ٤،٥ امریکایي ډالره اټکل شوي دي.

په پام کې ده چې له هرې غیر دولتي مؤسسې سره د سیالیو له لارې قرارداد لاسلیک شي ترڅو نوموړي اساسي خدمتونه په ټاکلې جغرافیایي سیمه کې چمتو کړي. د عامې روغتیا وزارت په هغه حالتونو کې چې غیر دولتي مؤسسې په سمه توګه د خدمتونو د برابرولو لپاره اجراات ونکړي، صلاحیت لري ترڅو اړوند تړون فسخ کړي. د نا دولتي مؤسسو د چارو څرنګوالی د یوه دریمګړي او خپلواک جوړښت له خوا ارزول کیږي چې هر کال تر ٦٠٠ روغتیایي مرکزونو زیات تر څیړنې لاندې راولي.

"نړیوال بانک له ۲۰۰۳ میلادي کال راهیسې دعامې روغتیادسکټور دبیارغونې ملاتړ کوي او ددغه سکټور ددقیقې تګلارې په ټاکنه اوهمدارنګه دتطبیق کوونکو په سالمه لارښوونه کې دعامې روغتیا دکلیدي نقش شاهد دی" دامطلب **دافغانستان له پاره نړیوال بانک عمومي رئیس ښاغلي نل کرافت**،څرګند کړ، زیاته یې کړه:" دعامې روغتیا دوزارت لارښودی نقش په تدریج سره پیاوړی شوی او دروغتیا او تغذیې دسکټور دستراتیژۍ له لارې یې دراتلونکو څلورو کلونو له پاره لومړیتوبونه په سمه توګه په نښه کړي او پیژندلي دي.دغه ستراتیژي دتمویلوکوونکو ترمینځ له مالي مرستواو متقابلې همکارۍ دهمغږي کوونکې وسیلې په توګه راڅرګنده شوې ده،نړیوال بانک ژمن دی چې په افغانستان کې دروغتیا او تغذیې دسکټور له ستراتیژۍ څخه هراړخیز ملاتړ وکړي او زموږ موخو ته درسیدو له پاره،چې دزیاتو افغانانو له پاره دباکیفیته روغتیایي خدمتونووړاندې کول دي،دوزرات لارښودی نقش پیاوړی کوي".

دا پروژه به د عامې روغتیا وزارت په واسطه په ٤٥ میاشتو کې پلی شي. د روغتیا او تغذیې سکتور د ملي ستراتیژۍ ټول لګښت ۵۵۰ میلیونه امریکایي ډالره اټکل شوی دی. د نړیوال بانک سربیره، تمه کیږي چې اروپایي کمسیون، د امریکې د متحده ایالتونو نړیواله پراختیایي اداره، د جاپان دولت، ناورې او څو نور دوه اړخیز مرستندویه جوړښتونه به د افغانستان بیا رغونې صندوق له لارې د نوموړې ستراتیژۍ د پلي کیدو د لګښتونو په تمویل کې ونډه واخلي.

**دافغانستان له پاره دنړیوال بانک دمرستوپه هکله معلومات**

نړیوال بانک تقریباً ۱،۲میلیارده ډالره، چې له دې جملې څخه ۱،۲۵میلیارده یې وړیا مرسته او ٤۳٦،٤میلیونه ډالر یې بې ګټې پور دی، د۲۰۰۲میلادي کال داپریل له میاشتې څخه راپه دیخوا له افغانستان سره ژمنه کړې ده.دنړیوال بانک زیاتره مرستو دکلیوال ژوند،دزیربناوو بیارغونه،معارف او دلومړنیو روغتیایي خدمتونو دبرخې مرسته او ملاتړ کړی دی.همدارنګه نړیوال بانک دافغانستان دبیارغونې صندوق (۳میلیارده ډالر) اداره کوي.له ۲۰۰۲ میلادي کال راپه دیخوا دنړیوالې مالې اداری (په نړیوال بانک کې له خصوصي سکټور څخه دملاتړ برخه) پانګه اچونه ٦۲،۸میلیونه ډالرو ته رسیدلې،په داسې حال کې چې دنړیوال بانک دخواړخیزې پانګې اچونې دتضمین ادارې د۷۷،۹میلیونه ډالرو په ارزښت پانګه اچونه بیمه کړې ده.

**دزیاتو معلوماتو له پاره له دې لاندې اشخاصو سره اړیکې ونیسئ:**

عزیزالدین شمس
دمالیې وزارت دمطبوعاتي دفتر مسوول
۰۷۹۹۳۲٦۳۸۲
mof.media@gmail.com

عبدالروف ضیاء
دنړیوال بانک ددفتر دمطبوعاتو او عامه اړیکو مسوول
۰۷۰۰۲۸۰۸۰۰
azia@worldbank.org